**د افغانستان اسلامي امارت**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون**

**د علمي څېړنو معاونيت**

**د علمي څېړنو آمريت**

# په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصئونيت داخلي کنفرانس تفصيلي راپور




۱۴۰۴ هـ ل/ ۱۴۴۷ هـ ق/ ۲۰۲۵ ميلادي

بسم الله الرحمن الرحيم

## د غذايي امنيت او مصئونيت ملي کنفرانس د عناوينو نوملړ


سريزه ........................................................................................................ 1

د پوهنتون ستراتيژيکې موخې.................................................................................... 2

لرليد(Vision) ........................................................................................... 2

مأموريت (Mission)........................................................................................ 2

د پوهنتون ارزښتونه (Merits )...................................................................................... 2

د کنفرانس موخې.................................................................................................. 3

د کنفرانس اړتيا او ارزښت ......................................................................................... 3

د کنفرانس د دايريدو څرنګوالی ................................................................................ 3

د کنفرانس لپاره د کاري کمېټو جوړښتونه ..................................................................... 4

د کاري کمېټو غړي ....................................................................................... 4

د کنفرانس ساحه او محورونه ................................................................................. 10

د کنفرانس د علمي مقالو د راټولولو، ارزونې او تائيد پروسه ..................................................... 11

د کنفرانس په جريان کې د فعاليتونو ترتيب او تنظيمي چارې.................................................... 11

کنفرانس ته رابلل شوي مېلمانه.................................................................................. 12

د کنفرانس د تالارونو په اړه معلومات.......................................................................... 13

د ژوري هيئت د تعين کړنلاره.................................................................................. 15

د غذايي امنيت او مصئونيت داخلي کنفرانس لومړی ورځ..................................................... 15

د کنفرانس پر مهال د زراعتي نندارتون فعاليتونه ........................................................... 17

د پوسټرونو په وسيله ارايه شوې مقالې ......................................................................... 18

د غذايي امنيت او مصئونيت ملي کنفرانس دوهمه ورځ ........................................................ 19

په کنفرانس کې د پوهنتونونو او مختلفو ادارو ونډه................................................................ 25

## د غذايي امنيت او مصئونيت ملي کنفرانس د عناوينو نوملړ

د میلمنو لپاره هستوګنځي، ګډونوال او خدمات ........ 25

د کنفرانس ګډونوالو ته قرطاسيوي دوسيه ........ 26

په پوهنتون کې د صحي کلينيک خدمات ........ 26

د غذايي امنيت او مصئونيت ملي کنفرانس د موندنو نچوړ ........ 27

د غذايي امنيت او مصئونيت ملي کنفرانس د وړاندیزونو نخوړ ........ 27

په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصؤنيت ملي کنفرانس د مصارفو تفصيلي راپور ........ 28

د کنفرانس د نشراتي توکو انځورونه ........ 29

د ننداراتوان او پوسټرونو پروګرام ځینې انځورونه ........ 34

**سريزه**

الحمدُ لله ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على سيدِ الأنبياءِ والمرسلين، نبينا محمدٍ ﷺ، أما بعد: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيدِ: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا﴾ (البقرة: 168)

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون (اناستو) چې د لومړي ځل لپاره د کرنې او مالدارۍ په برخو کې د فوق ليسانس زده کړو، تحقيق او ترويج په موخه د هېواد په سويل لوديځ ولايت کندهار کې په ۱۳۹۱ هـ ل کال کې د دريو پوهنځيو په درلودلو سره تأسيس کړل شو، چې د هېواد د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملاتړ سره يې د هند هېواد د ICAR اداري څخه هم علمي ملاتړ ترلاسه کړی وو او لا هم جريان لري. اوس مهال په د نباتي علومو، حيواني علومو او کرنيز اقتصاد پوهنځيو په پنځو ۵ څانګو کې د ماسترۍ برنامې جريان لري او د يادو پوهنځيو او ورتړي پوهنځی په ټولټال ۱۷ څانګو کې د ليسانس محصلين روزي.

لله الحمد چې د اسلامي امارت په راتګ سره د څېړنو او ترويج په برخه کې د څېړنو معاونيتونو په ايجاد او د داخلي او بين المللي کنفرانسونو په دايرولو سره لوی پرمختګ تر لاسه شو، په دې برخه کې د لوړو زده کړو محترم وزارت، خاصتاً د څېړنې، تأليف او ژباړې محترم رياست هڅې او سترياوې د قدردانی وړ دي، الله ج د يې ورڅخه قبولې کړي. اناستو پوهنتون په کندهار ولايت کې لومړنی پوهنتون دی چې د هېواد په کچه د يوې حادې موضوع اړوند داخلي کنفرانس يې داير او په دې برخه کې يې څېړونکي، استادان او چارواکي د ښې راتلونکې، کافي او صحي غذا د درلودولو او غذايي ثبات (امنيت او مصئونيت) په موخه سره راټول کړل.

د الله تعالی (ج) له لورې غذايي امنيت او مصئونيت د انسان د بقاء، روغتيا، سوکالې او د اسلامي ژوند د پياوړتيا بنسټ ګڼل کېږي، او د اسلام مبين دين هر مسلمان ته سپارښتنه کوي چې حلال، پاک او کافي خوراکي توکي د ځان، خپلې کورنۍ او ټولنې لپاره برابر کړي. افغانستان سره له دې چې د پراخو طبيعي سرچينو او زراعتي وړتياوو لرونکی هېواد دی، لا هم د بېلابېلو ټولنيزو، اقتصادي او اقليمي ستونزو له امله له جدي غذايي ننګونو سره مخ دی. د اقليم بدلون، د کرنې ټيټه توليدي وړتيا، د بازارونو ناپايداري او د عايداتو کموالی هغه عمده عوامل دي چې په هېواد کې د غذايي امنيت او مصئونيت ثبات ته زيان رسوي او خلک له سختو ستونزو سره مخامخ کوي. د هېواد اقتصادي او ټولنيزې سوکالۍ او بقاء يوازې د علمي څېړنو او علمي نوښتونو له لارې تضمين کېدای شي. له همدې امله، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون رهبرۍ او استادانو پرېکړه وکړه چې د غذايي امنيت او مصئونيت د پياوړتيا په موخه يو داخلي علمي کنفرانس جوړ کړي. دغه کنفرانس د متخصصينو، پاليسی جوړوونکو، علمي بنسټونو او نړيوالو همکارانو ترمنځ د ګډ فکر، څېړنې او عمل د يو ملي چوکاټ د رامنځته کولو هدف درلود، تر څو د غذايي امنيت د ټينګښت، د توليد د لوړوالي، د تغذيې د ښه والي او د ټولنيز مصئونيت د تأمين لارې چارې وڅېړل شي. ياد کنفرانس چې د ۱۴۰۴ هـ ش کال د عقرب له ۱۰مې تر ۱۲مې نېټې پورې د لوړو زده کړو وزارت په ځانګړې توګه د څېړنې، تاليف او ژباړې محترم رياست په همکارۍ او د اناستو پوهنتون په کوربه‌توب ترسره شو، د هېواد د بېلابېلو پوهنتونونو استادانو، څېړونکو او متخصصينو په ګډون د پام وړ علمي مقالې وړاندې کړې. د دغو مقالو پايلې او وړانديزونه د يو کتاب په بڼه راټول او د کنفرانس په لومړۍ ورځ له ګډونوالو سره شريکې شوې. سربېره پر دې، د ټولو مقالو څخه يو جامع کتاب هم ترتيب شوی دی، چې په نږدې راتلونکې کې به د اناستو پوهنتون د ويب‌پاڼې له لارې د هېواد له خلکو سره د عامې ګټې اخيستنې لپاره شريک کړل شي.

## د پوهنتون ستراتیژیکې موخې

1. په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل.
2. د څېړنې، تولید او ترویج له لارې د کرنې او مالدارۍ سکتور پیاوړي کول.
3. د علمي او تحصیلي چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو سره د پوهنتون عیارول.
4. د کرنې او مالدارۍ په برخو کې د نوې تکنالوژۍ ترویجول.
5. د ودانیو پراختیا او تجهیز کول.

### لرلید(Vision)

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون غواړي چې په ملي او سیمه ایزه کچه د کرهنې او مالدارې د عصري کېدو په برخه کې د مسلکي او بشري ځواک په مټ د تدریسي او څېړنیزو خدمتونو په وړاندي کولو سره په ملي او سیمه ایزه کچه یو مخکښ پوهنتون واوسي

### مأموریت (Mission)

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي څېړنو په تر سره کولو او له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې د ټولني اړتیاوو سره سم، د لیسانس او فوق لیسانس په کچه مسلکي او ژمن کادرونه روزي او د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او ثبات په برخه کې خپل مسؤلیت ادا کوي.

## د پوهنتون ارزښتونه (Merits )

1. اسلامي ارزښتونو ته ژمن اوسیدل
2. هیواد پالنه
3. رېښتینولي
4. عدالت
5. د تعصب په وړاندې مبارزه
6. کیفیت لومړیتوب دی
7. ګډ کار کول
8. نوښتونه
9. مسؤولیت قبلونه
10. اکاډمیکه آزادي
11. اصولو ته ژمنتیا
12. شفافیت او حساب ورکونه

## د کنفرانس موخې

په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصؤنيت داخلي کنفرانس د لاندې پنځو عامه اهدافو په موخه ترسره شو.

1. د سالمې او صحي غذا د توليد تخنيکونه او لارې چارې موندل او ترويج
2. د هيواد ټولو نفوسو ته په کافي اندازه د غذايي توکو مهياء کولو په اړوند پوهه خپرول
3. د مختلفو ناروغيو څخه د مخنيوي په اړوند تغذيوي پوهه وړاندې کول
4. د هيواد د خودکفايئ، نفوسو د بقاء او عامې روغتيا اړوند د دولت لپاره د جامع پاليسيانو جوړولو لپاره د ارقامو او پوهې راټولول.
5. د غذايي مصؤنيت په موخه د غذايي توکو د زيرمتون اړوند عامه پوهاوی ترلاسه کول.

## د کنفرانس اړتيا او ارزښت

ليدل کيږي چې په هيواد کې د غذا کمښت او صحي غذا ته کم لاسرسی د بيلا بيلا ستونزو ، په خاصه توګه د روغتيايي ستونزو باعث کيږي او له دې لارې د انسانانو او نورو ژوو د مړينې کچه ډيره لوړه ده، غذايي امنيت او مصؤنيت نه يوازې دا چې د انسان لپاره د خوارځواکۍ او غذايي توکو قلت له منځه وړي، بلکې، د کرنې او مالدارۍ سکتور اړوند د لږو او بې کيفيته حاصلاتو تر څنګ به د خوړو امنيت په يوه ټولنه کې د صحي او فعال ژوند لپاره مناسب او صحي خوړو ته د ټولو خلکو لاسرسی ترسره شي، غذايي امنيت او مصؤنيت د يوې ټولنې صحي او رواني ستونزې رفع کوي او د بهتره غذايي توکو په خوړلو سره د بدن حجرات او ټول غړي سالمه وده کوي، د امراضو او نابرابره شرايطو په مقابل کې لوړ مقاومت ترلاسه او بالاخره له ستونزو خالي ټولنې ته لاره هواروي.


## د کنفرانس د دايريدو څرنګوالی

د غذايي امنيت او مصؤنيت د داخلي کنفرانس طرحه د اناستو پوهنتون د څيړنو معاونيت او د څيړنو آمريت په هڅو په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې ترتيب شوه. دغه طرحه وروسته له يو لړ بدلونونو او بشپړونو څخه په ۱۴۰۳ هـ ش کال د ثور مياشتې په اوږدو کې د پوهنتون علمي شورا ته د تائيد لپاره وړاندې شوه. ياده طرحه د علمي شورا له هراړخيزو بحثونو او ارزونو وروسته د تائيد وړ وبلل شوه او وروپسې د لوړو زده کړو وزارت د څيړنې، تأليف او ژباړې محترم رياست ته په رسمي ډول د تائيد په موخه واستول شوه. ياد رياست هم تر ارزونې وروسته طرحه تاييد او د لازم اجراآتو لپاره يې بېرته اناستو پوهنتون ته راولېږله.

په پلان کې وه چې د غذايي امنيت او مصؤنيت داخلي کنفرانس به په ۱۴۰۳ هـ ش کال د عقرب په مياشت کې ترسره شي، خو د لوړو زده کړو وزارت د لازم ليد له مخې د کنفرانس د ترسره کولو نېټه بدله او په ۱۴۰۴ هـ ش کال د عقرب له ۱۰مې تر ۱۲مې پورې رسماً تائيد شوه.

د کنفرانس د چارو د غوره تنظيم، انسجام، مديريت او اغېزمن سمون لپاره د اناستو پوهنتون له استادانو، اداري کارکوونکو او د نورو پوهنتونونو له استادانو څخه يوولس کمېټې جوړې شوې. هرې کمېټې ته د ځانګړو دندو په رڼا کې لومړنی کاري پلان جوړ کړل شو او وروسته د همدغه پلان د پلي کولو لپاره دوامداري غونډې ترسره شوې.

## د کنفرانس لپاره د کاري کمېټو جوړښتونه




## د کاري کمېټو غړي

| رهبري بورډ | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | د بورډ د غړو نومونه | دنده | موقف |
| ۱ | شیخ الحدیث ضیاء الرحمن الاریوبي | د لوړو زده کړو وزارت علمي معین | د بورډ مشر |
| ۲ | دوکتور حمیدالله مزمل | د څیړنې، تألیف او ژباړې رئیس | مرستیال |
| ۳ | پوهندوی احمدالله ظاهر | د وترنري علومو پوهنځي رئیس | منشي |
| ۴ | الحاج مولوي سید محمد داؤد اغا هاشمي | د اناستو پوهنتون رئیس | غړی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | پوهنیار ثناء الله ارغستاني | علمي مرستیال | غړی |
| ٦ | مولوي عبدالستار حقاني | مالي او اداري چارو مرستیال | غړی |
| ۷ | پوهنمل دوکتور شریف الله شریفي | د علمي څېړنو مرستیال | غړی |
| ۸ | مولوي محمود الحسن | د محصلانو چارو مرستیال | غړی |
| ۹ | پوهنیار فرید احمد ولي | د اړیکو او انسجام مرستیال | غړی |
| ۱۰ | پوهاند شاه محمود بری | استاد | غړی |
| ۱۱ | پوهنوال نصیراحمد نصرت | د نباتي پوهنځي علومو رئیس | غړی |
| ۱۲ | پوهنمل عزیزالرحمن بابی | د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی رئیس | غړی |
| ۱۳ | پوهنمل عصمت الله رسا | حیواني علومو پوهنځي رئیس | غړی |

**د پلان جوړوني (برنامه ریزي) کمیته**

| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
|---|---|---|---|
| ۱ | پوهاند سید محمد کبیر مین | استاد | مشر |
| ۲ | پوهندوی سلطان محمد سیرت | استاد | مرستیال |
| ۳ | پوهنیار نجیب الله سعادت | استاد | منشي |
| ۴ | پوهندوی دوکتور امین الله نور | استاد | غړی |
| ۵ | پوهنمل دوکتور شریف الله شریفي | د علمي څېړنو مرستیال | غړی |
| ٦ | پوهنوال نقیب الله مجددي | استاد | غړی |
| ۷ | مولوي صالح محمد اسلام مل | استاد | غړی |
| ۸ | مولوي نقیب الله محمدي | د دفتر آمر | غړی |
| ۹ | ضیاء الدین اتل | د کارکوونکو چارو آمر | غړی |
| ۱۰ | تیمور شاه مصروفي | مدیر سوانح | غړی |
| ۱۱ | مولوي فتح محمد حنیف | د استخدام مدیر | غړی |

**اجرائیوي کمیته**

| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
|---|---|---|---|
| ۱ | مولوي محمود الحسن | د محصلانو چارو مرستیال | مشر |
| ۲ | پوهنمل عصمت الله رسا | د حیواني علومو پوهنځی رئیس | مرستیال |
| ۳ | پوهنیار وکیل احمد سیرت | استاد | منشي |
| ۴ | پوهنوال علاوالدین مستمند | استاد | غړی |
| ۵ | پوهنیار محبب الله همدرد | استاد | غړی |
| ٦ | دوکتور حکمت الله عبید | استاد | غړی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | پوهنیار کرامت الله فاضل | د علمي څېړنو آمر او استاد | غړی |
| ۸ | پوهنیار احسان الله فضلي | استاد | غړی |
| ۹ | پوهنیار حسن الله عرفان | استاد | غړی |
| ۱۰ | پوهنمل دوکتور نواب ناصر | استاد | غړی |
| ۱۱ | پوهنیار عبدالهادي واصل | استاد | غړی |
| ۱۲ | پوهنیار محمد صادق صالحي | استاد | غړی |
| **علمي کمیټه** | | | |
| **شمیره** | **د کمیټې د غړو نومونه** | **دنده** | **موقف** |
| ۱ | پوهنمل دوکتور شریف الله شریفي | د علمي څېړنو مرستیال | مشر |
| ۲ | پوهندوی دوکتور امین الله نور | استاد | مرستیال |
| ۳ | پوهنمل سردار محمد هاشمي | استاد | منشي |
| ۴ | د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د کتنې بورډ | | غړي |
| ۵ | دوکتور حکمت الله عبید | استاد | غړی |
| ٦ | دوکتور محمد آغا ضیاء | استاد | غړی |
| ۷ | دوکتور محمد موسی داؤدزی | استاد | غړی |
| ۸ | پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي | استاد | غړی |
| ۹ | پوهندوی دوکتور محمد داؤد باور | استاد | غړی |
| ۱۰ | پوهنوال نصیر احمد نصرت | د نباتي علومو پوهنځي رئیس او استاد | غړی |
| ۱۱ | پوهندوی احمدالله ظاهر | استاد | غړی |
| ۱۲ | پوهندوی قدرت الله احسان | استاد | غړی |
| ۱۳ | پوهندوی سیداحمد سیدي | استاد | غړی |
| ۱۴ | پوهندوی سورګل اعظمي | استاد | غړی |
| ۱۵ | پوهندوی دوکتور محمد اسماعیل هاشمي | د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون استاد | غړی |
| ۱٦ | پوهنمل محمد نعیم عزیزي | استاد | غړی |
| ۱۷ | پوهنمل صفي الله جوهر | د کابل پوهنتون زراعت پوهنځي رئیس او استاد | غړی |
| ۱۸ | پوهندوی وحیدالله اعظمي | د کندهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی استاد | غړی |
| ۱۹ | پوهاند ډاکتر نجیب الله فضلي | د کندهار پوهنتون طب پوهنځی استاد | غړی |
| ۲۰ | پوهنمل میرویس یحیی زی | استاد | غړی |
| ۲۱ | پوهنمل دوکتور یما نوري | استاد | غړی |
| ۲۲ | پوهنمل دوکتور مختار احمد فیض | استاد | غړی |

| د نظارت هئیت | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
| ۱ | دوکتور حمید الله مزمل | د څیړنې، تألیف او ژباړې رئیس | مشر |
| ۲ | الحاج مولوي سید محمد داؤد اغا هاشمي | د اناسټو پوهنتون رئیس | مرستیال |
| ۳ | پوهنیار کرامت الله فاضل | د علمي څیړنو آمر | منشي |
| ۴ | عبدالباري خپلواک | د مالي او حسابي چارو رئیس | غړی |
| ۵ | پوهنیار ثناءالله ارغستاني | علمي مرستیال | غړی |
| ٦ | مولوي حمیدالله حنیف | استاد | غړی |

| د نشرا تو او فرهنګي چارو کمېټه | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
| ۱ | پوهنیار حکمت الله انیس | استاد | مشر |
| ۲ | پوهنمل میرویس یحیی زی | استاد | مرستیال |
| ۳ | محمدیونس نظري | د کرنیز اقتصاد پوهنځي تدریسي مدیر | منشي |
| ۴ | محمد صابر | د نباتي علومو پوهنځی تدریسي مدیر | غړی |
| ۵ | پوهنیار حکمت الله نیمګړی | استاد | غړی |
| ٦ | ن. پوهنیار محمد یونس وزیري | استاد | غړی |
| ۷ | عبدالقیوم حلیمي | د محصلانو د انسجام مدیر | غړی |
| ۸ | محیب الرحمن سلیم | IT مدیر | غړی |
| ۹ | مولوي عبدالصمد صمیم | د نشراتو آمر | غړی |
| ۱۰ | سید کلیم الله | د IT مدیر | غړی |

| د نظم او ډسپلین کمېټه | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
| ۱ | پوهنمل سردار محمد هاشمي | استاد | مشر |
| ۲ | پوهنمل خالد احمد یعقوبي | استاد | مرستیال |
| ۳ | پوهنیار شیرمحمد وفا | استاد | منشي |
| ۴ | پوهنمل دوکتور مختاراحمد فیض | استاد | غړی |
| ۵ | پوهنمل دوکتور یما نوري | استاد | غړی |
| ٦ | پوهنمل نعیم جان عادل | استاد | غړی |
| ۷ | پوهنیار محبوب الله احمدي | استاد | غړی |
| ۸ | ن پوهنیار قیمت ګل درمل | استاد | غړی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | پوهنیار قدرت الله دوست | استاد | غړی |
| ۱۰ | پوهنیار محب الله وصال | استاد | غړی |
| ۱۱ | محمد عمر حبیبي | د څېړنو عمومي مدیر | غړی |
| ۱۲ | ن پوهنیار اغا محمد غفوري | استاد | غړی |
| ۱۳ | پوهنیار محمد صادق امین | استاد | غړی |
| ۱۴ | پوهنیار محمد هارون رحماني | استاد | غړی |
| ۱۵ | پوهنیار محب الله فیضي | استاد | غړی |
| ۱٦ | پوهنیار محمد ادریس داوري | استاد | غړی |
| ۱۷ | پوهنیار رحیم الله همتخواه | استاد | غړی |
| ۱۸ | پوهنیار شجاع محمد کاکړ | استاد | غړی |
| ۱۹ | ن.پوهنیار عبدالباسط تاجک | استاد | غړی |
| ۲۰ | ن پوهنیار جمعه گل صدیقي | استاد | غړی |
| ۲۱ | ن پوهنیار عابد احمدي | استاد | غړی |
| **د تدارکاتو کمېټه** | | | |
| **شمیره** | **د کمیټي د غړو نومونه** | **دنده** | **موقف** |
| ۱ | مولوي عبدالستار حقاني | مالي او اداري مرستیال | مشر |
| ۲ | مصطفی اغا | د تدارکاتو آمر | مرستیال |
| ۳ | محمد شفیق نایل | د پلان او پالیسي مدیر | منشي |
| ۴ | پوهنمل محمد هارون رحیمي | استاد | غړی |
| ۵ | پوهنمل دین محمد مشفق | د استادانو چارو آمر | غړی |
| ٦ | مولوي محمد قاسم خالد | مالي او حسابي آمر | غړی |
| ۷ | پوهنمل دوکتور حکمت الله عبید | استاد | غړی |
| **د تشریفاتو، نوملیکنې او ښه راغلاست کمېټه:** | | | |
| **شمیره** | **د کمیټي د غړو نومونه** | **دنده** | **موقف** |
| ۱ | ن. پوهنیار سمیع الله قریشي | استاد | مشر |
| ۲ | پوهنمل زمریالي تنی | استاد | مرستیال |
| ۳ | پوهنمل اسدالله سعادت | استاد | منشي |
| ۴ | قدرت الله رسولي | د اجتماعي علومو کارشناس | غړی |
| ۵ | پوهنمل غني داد سعیدي | استاد او د علمي مجلې آمر | غړی |
| ٦ | پوهنیار صدیق الله احساس | استاد | غړی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | پوهندوی نورالحق محمدي | استاد | غړی |
| ۸ | عزیزالله عزیزي | د طبعي علومو د تحقیقاتو مدیر | غړی |
| ۹ | پوهنیار عبدالفهیم سروري | استاد | غړی |
| ۱۰ | ن. پوهنیار اکبر جان زحمتي | استاد | غړی |
| ۱۱ | پوهنمل رحیم الله امرخیل | استاد | غړی |
| ۱۲ | ن. پوهنیار کریم الله عاصم | استاد | غړی |
| ۱۳ | پوهنمل حمدالله حمیم | استاد | غړی |
| ۱۴ | ن پوهنیار میرولي حقیار | استاد | غړی |
| ۱۵ | ن. پوهنیار قدرت الله سبحاني | استاد | غړی |
| ۱۶ | مولوي کفایت الله حصیف | استاد | غړی |
| ۱۷ | همایون هیواد | د محصلانو عمومي مدیر | غړی |
| ۱۸ | عبدالشکور احداد | اجرائیه مدیر | غړی |
| ۱۹ | عبدالولي بارک | د څېړنیز فارم آمر | غړی |
| ۲۰ | مولوي محمد سلیم سلیم | د دعوت او ارشاد آمر | غړی |
| ۲۱ | مولوي شفیع الله حقاني | استاد | غړی |
| ۲۲ | ن. پوهنیار احمد رحیمي | استاد | غړی |
| ۲۳ | مولوي نورالله احمدي | استاد | غړی |
| ۲۴ | اسدالله همدرد | لابرانټ | غړی |
| ۲۵ | سلطان محمد رخشان | لابرانټ | غړی |
| ۲۶ | مولوي فیض الله مصطفی | استاد | غړی |
| ۲۷ | سید محمد | برقي | غړی |
| ۲۸ | مولوي حمیدالله حنیف | استاد | غړی |
| ۲۹ | ن. پوهنیار صدام مومند | استاد | غړی |
| ۳۰ | مولوي پیر محمد | د وترنرۍ پوهنځي تدریسي مدیر | غړی |

**د ننداړتون ترسره کوونکي**

| شمیره | د کمیټې د غړو نومونه | دنده | موقف |
|---|---|---|---|
| ۱ | پوهنیار فریداحمد ولي | د اړیکو او انسجام مرستیال | مشر |
| ۲ | پوهنیار عبدالرازق ریحان | استاد | مرستیال |
| ۳ | پوهنیار سید عبدالحامد سادات | استاد | منشي |
| ۴ | پوهنمل خلیل الله زریال | استاد | غړی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵ | پوهنیار میرویس خان افغان | استاد | غړی |
| ٦ | پوهنیار محب الله وصال | استاد | غړی |
| ۷ | محمد عظیم مصلح | داخلي اړیکو انسجام آمر | غړی |
| ۸ | پوهنوال علاوالدین مستمند | استاد | غړی |
| ۹ | پوهنمل عزیز الرحمن بابی | د کرنیز اقتصاد پوهنځی رئیس | غړی |
| | **صحي کمېټه** | | |
| **شمیره** | **د کمیټې د غړو نومونه** | **دنده** | **موقف** |
| ۱ | امین الله نظري | د ټرانسپورت مدیر | مشر |
| ۲ | داکتر ذبیح الله اغا | د کتابتون مدیر | مرستیال |
| ۳ | پوهنوال سلطان محمد سیرت | استاد | غړی |
| ۴ | سید گل | خدماتي | غړی |
| ۵ | اسیرالله ترین | د حفظ او مراقبت مدیر | غړی |
| | **د لوړو زده کړو محترم وزارت مقام څخه همکار تخنیکي غړي** | | |
| **شمیره** | **د کمیټې د غړو نومونه** | **دنده** | **موقف** |
| ۱ | عمیر احمدزی | نشراتي مسؤل | نطاق |
| ۲ | عبدالله محمدي | دڅېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د کنفرانسونو کارشناس | همکار |
| ۳ | محمد رومان احسان زاده | دڅېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د ډېټابېس عمومي مدیر | همکار |
| ۴ | روزي محمد معصوم | دڅېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د څېړنیزو پروژو کارشناس | همکار |
| ۵ | محمد امان احسان زاده | دڅېړنې، تألیف او ژباړې ریاست د ملي مجلو کارشناس | همکار |
| ٦ | جمال الدین نظامي | د آی ټي ریاست د سافټویرونو او هارډویرونو عمومي مدیر | همکار |
| ۷ | حبیب الله محمدي | د آی ټي ریاست د ولایتي آی ټي برنامو کارشناس | همکار |

### د کنفرانس ساحه او محوورنه

په افغانستان کې غذایي امنیت او مصؤنیت داخلي کنفرانس په عامه کې د کرنې، مالداری، وترنري، طب، چاپیریال ساتنې، انجنیري، سیاسي علومو او نورې پوهنځیو اړوند برخې په بر کې نیسي چې اصلي محوورنه یې په لاندې ډول دي.

په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصؤنيت داخلي کنفرانس اصلي محورونه

| شمېره | اصلي محورونه | شمېره | اصلي محورونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | په افغانستان کې غذايي امنيت او مصؤنيت ته متوجه گواښونو ارزونه او حل لارې | ٦ | د غذايي امنيت او مصؤنيت د پایښت لارې چارې |
| ۲ | د غذايي موادو د کمیت او کيفيت د توليد په لوړاوي کې د کرنې او مالداري ونډه | ۷ | د غذايي امنيت او مصؤنيت اقتصادي اړخ |
| ۳ | د غذايي امنيت او مصؤنيت د تأمين لپاره د شريعي اصولو په رڼا کې مؤثره نړيوالې تګلارې او د قوانينو وضع کول | ۸ | غذايي امنيت او ټولنيز عدالت |
| ۴ | د غذايي امنيت او مصؤنيت د تأمين په موخه تخنيکي نوښتونه | ۹ | د روغتيا او غذايي امنيت اړيکه |
| ۵ | د غذايي امنيت او مصؤنيت په اړه عامه پوهاوی | | |

## د کنفرانس د علمي مقالو د راټولولو، ارزونې او تائيد پروسه

د کنفرانس د طرحې د تائيدېدو سره سم، د هېواد ټولو پوهنتونونو، علمي مراکزو او د کرنې او مالدارۍ اړوند ټولو دولتي او خصوصي ادارو ته د يوه رسمي مکتوب له لارې غوښتنه ولېږل شوه، تر څو دوی وکولای شي د کنفرانس د اصلي او فرعي محورونو په پام کې نيولو سره خپلې علمي او څېړنيزې مقالې ترتيب او د اناسيو پوهنتون داخلي کنفرانس کې د ګډون لپاره راولېږي.

په ټاکل شوي وخت کې لومړی ۱۲٦ لنډيزونه ترلاسه شول، د دغو لنډيزونو له لومړنۍ ارزونې وروسته ګډونوالو ته د بشپړو مقالو د استولو بلنه ورکړل شوه چې په پايله کې ۱۱۸ بشپړې علمي مقالې ترلاسه شوې. د علمي کميټې مسلکي ارزونه د شفافو معيارونو پر بنسټ ترسره شوه؛ چې په کې د څېړنې د اصالت، علمي نوښت، ميتودولوژۍ د دقت، د معلوماتو د باور وړتيا، د پايلو د علمي ارزښت، او د مقالې د ليکوالۍ د معيارونو رعايت شامل وو.

د علمي کميټې د وروستي پرېکړې له مخې، د ۱۱۸ مقالو له ډلې ۹۳ مقالې د وړاندې کولو لپاره تائيد او ۲۵ مقالې د ځينو علمي، تخنيکي او څېړنيزو معيارونو د نه پوره کولو له امله رد اعلان شوې. سربېره پر دې، د کنفرانس د همغږۍ او علمي مديريت کمېټې د ټولو ګډونوالو د آسانتيا لپاره د پريزينټېشن د څرنګوالي لارښود، د غونډو مهالويش، د مقالې د دفاع تګلارې، او د ارزونې د پايلو د شفافيت پلان هم ترتيب او خپور کړ.

## د کنفرانس په جريان کې د فعاليتونو ترتيب او تنظيمي چارې

څو ورځې مخکې له دې چې د کنفرانس رسمي پيل وشي، د کنفرانس د تنظيم او همغږۍ د ښه مديريت لپاره يو منظم او دوامداره اداري چارچوب رامنځته شو. په دې چوکاټ کې، د کنفرانس کميټې د مسوولينو ګډې غونډې، د کنفرانس د رهبرۍ غونډې، او د هرې ځانګړې کميټې ځانګړې ناستې په منظمه توګه هره ورځ د پوهنتون د رئيس، د علمي څېړنو د معاون او د علمي څېړنو د آمر په حضوري ګډون سره ترسره کېدې.

د دې غونډې د ترسره کېدو موخه د کنفرانس د ټولو چارو د سمون او همغږۍ یقیني کول وو، ترڅو د علمي، اداري او تخنیکي چارو ترمنځ یو منظم جریان رامنځته شي. د غونډې په جریان کې لاندې مهمې چارې ترسره شوې:

- د کنفرانس د ورځنیو مهالویش او پروګرام وروستۍ تصدیق او همغږي
- د علمي مقالو، لنډیزونو او د ګډونوالو د ثبت پروسې څارنه او ارزونه
- د اداري چارو لکه د غونډې ځای، تجهیزاتو او تخنیکي اړتیاوو سمبالښت
- د رهبرۍ او کمېټو تر منځ د پرېکړو شفافه او همغږه تبادله
- د احتمالي ستونزو پیژندنه او د حل لارې عملي کول

د یادو غونډو دوامداره او منظم ترسره کېدل د کنفرانس د فعالیتونو په هره برخه کې د لوړ علمي او اداري همغږۍ زمینه برابره کړه. په نتیجه کې، ټولې چارې د پلان سره سم پرمخ ولاړې او د کنفرانس د بریالیتوب لپاره قوي بنسټ برابر شو.

دغه ډول منظم اداري او علمي همغږي د کنفرانس په جریان کې د فعالیتونو د کیفیت لوړولو، د وخت مدیریت، د منابعو اغېزمن استعمال، او د ګډونوالو د رضایت زیاتوالي لپاره حیاتي رول لوبوي.

### کنفرانس ته رابلل شوي مېلمانه

دا چې کنفرانس د غذايي امنیت او مصئونیت تر عنوان لاندې جوړ شوی وو، نو د مېلمنو او ادارتو بلنه هم د موضوع سره په تړاو ترسره شوه او لاندې مېلمنو ته د ګډون په موخه بلنلیکونه واستول شول:

- د لوړو زده کړو وزارت محترم وزیر شیخ الحدیث مولوي ندامحمد ندیم صاحب او ورسره پلاوی
- علمي معین محترم شیخ الحدیث ضیاءالرحمن الاریوبي صاحب
- د څېړنو، تألیف او ژباړې محترم رئیس دوکتور حمیدالله مزمل صاحب او ورسره پلاوی
- د وزارت مقام ټول قدرمن رئیس صاحبان
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت محترم وزیر او ورسره پلاوی
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ محترم وزارت پنځه تنه داخلي او ولایتي رئیس صاحبان
- د عامې روغتیا وزارت محترم وزیر صاحب او ورسره پلاوی
- د غذا او درملو ملي اداري محترم رئیس او ورسره پلاوی
- د علومو اکاډمۍ محترم رئیس صاحب
- د ملي پرمختیایي شرکت محترم رئیس صاحب
- د ټولو امارتي پوهنتونونو د علمي څېړنو مرستیالان/آمرین
- ټول څېړونکي او استادان چې مقالې یې په کنفرانس کې منل شوې وې
- د علمي کمېټې هغه غړي چې په نورو پوهنتونونو کې دنده لري
- د کندهار ولایت ټول سکټوري ریاستونو، امارتي او خصوصي پوهنتونونو استازي
- په کندهار ولایت کې د کرنې او غذا په برخه کې فعالیت کوونکي ټول همکار ملي او نړیوال مؤسسات
- د کندهار ولایت صنعتي پارک اړوند د کرنې او مالدارۍ برخو ټول مسؤلین.

## د کنفرانس د تالارونو په اړه معلومات

د غذايي امنیت او مصؤنیت ملي کنفرانس د اناستو پوهنتون په دريو تالارونو کې ترسره شو، چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کېږي:

### ۱ـ د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه د غونډو تالار

دا تالار چې په یو وخت کې د ۱۰۰۰ تنه میلمنو او ګډونوالو د حضور ظرفیت لري په ښه توګه مجهز دی چې د دريو عمومي دروازو سربېره یوه خصوصي دروازه لري، چې د خاصو مېلمنو او مشرانو د راتګ لپاره ورڅخه استفاده کیږي، یاد تالار د مجهزو چوکیو، غږیز سیستم، لوی ستېج او روښنايۍ درلودونکی دی، چې په درې ډوله (عمومي، سولري او جنراتوري) برق سره مجهز او انټرنېټ پکې شتون لري.





**۲- د امام بخاري رحمة الله علیه د غونډو تالار**

نوموړی تالار په یو وخت کې د ٦٠٠ تنه ګډونوالو ظرفیت لري چې د عمومي، سولري او جنراتوري برېښنا سره وصل او انټرنېټ پکې فعاله دی. یاد تالار د آیرکنډېشننونو په درلودلو سره د یخ والي اوګراموالي په سیستم سره مجهز، مکمل فرش او د مسترحو چوکیو درلودونکی دی.






**۳ـ د کمپیوټر لیب تالار**

دا چې یاد تالار په میزونو، چوکیو او کمپیوټرونو سره مجهز او ترتیب شوی دی، په عادي حالاتو کې ورځخه د محصلانو د عملي زده کړو او کارونو لپاره استعمالېږي چې په کافي اندازه ځای، کمپیوټر او اړوند وسایل لري، ټول کمپیوټرونه د انټرنېټ سره وصل او ترې استفاده کیږي. په کنفرانس کې د دریم تالار په توګه هم دا ځای وکارول شو چې تر ۲۰۰ زیات ګډونوالو ظرفیت یې درلودلو.





## د ژوري هیئت د تعین کړنلاره

د غذایي امنیت او مصئونیت داخلي کنفرانس ټولې مقالې په دریو برخو او تالارونو سره ووېشل شوې، چې د ارایې په وخت کې د درې څخه تر پنځه تنه ژوري هیئت غړو لخوا یې کتنه او ارزونه ترسره کېدله.

ژوري هېئت د علمي کمېټې د مجلس او پریکړې په اساس د اناستیو پوهنتون له لوړ رتبه استادانو او د نورو پوهنتونونو له علمي او څېړنو مرستیالانو څخه تشکیل شوی وو، چې په هره برخه کې به یې د یو ډیزاین شوي فورم په وسیله د مقالې او ارایې ارزونه ترسره کوله، یاد فورم په لاندې توګه د مشاهدې وړ دی:

د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونیت

**د غذایي امنیت او مصؤنیت ملي کنفرانس کې د ارائیه کېدونکو علمي موضوعاتو د ارزونې فورم**

**د موضوع عنوان:**

**د وراندې کونکي نوم:** **اړوند اداره:** **ځانګه:** نېټه: ۱۴۴۷– ۵ – / ۱۴۰۴– ۸ –

| ګڼه | ژور هیئات | د ارزونې محتوا | | | | | | مجموعه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د مطالبو د ارایه کولو څواک، استدلال او مناقشه | له سریزې څخه تر پایلې د موضوع منطقي تسلسل | منطقي استنباط او پایله اخیستل | له تکنالوژۍ، جدولونو او چارټونو څخه ګټه اخیستل | د څواب ویلو څواک او پر ځان باور | د موضوع پروخت ارائیه کول | | |
| ۱ | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | |
| د ۹۰ نمرو څخه ارزونه وکړئ. | | | | | | دنمرو مجموعه | | | |
| یادونه : دنمرو د ورکړې سیستم څخه دې ګټه واخستل سي؛ د ارزونې هره محتوا له زیات نه زیات ۵ نمرې لري. | | | | | | د نمرو اوسط | | | |

**د ژوري هیئت تائید**

۱ نوم: ۲ نوم: ۳ نوم:

لاسلیک: ( ) لاسلیک: ( ) لاسلیک: ( )

## د غذایي امنیت او مصئونیت داخلي کنفرانس لومړی ورځ

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون کې د غذایي امنیت او مصئونیت ملي کنفرانس لومړۍ ورځ په خورا شانداره مراسمو سره تر سره سول، په یاده غونډه کې د هیواد له ګوټ ګوټ څخه علماء کرامو، استادانو، څېړونکو او مسؤلینو ګډون درلود. غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو ایاتو په تلاوت سره پیل شوه. وروپسې پوهنمل ډاکټر حسین محمدي پر غذایي امنیت او مصئونیت باندې د افغانستان د اقلیمي تغیراتو د تاثیراتو ترعنوان لاندې مقاله وړاندې کړه. په همدې ترتیب سره پوهندوی سیداحمد سیدي د لږ لګښته غذایي توکو د کمښت په خوار ځواکی کې د غنمو اوړو د بډاینې ترعنوان لاندې مقاله وړاندې او د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وویل شول. وروپسې د اناستیو پوهنتون محترم رئیس الحاج مولوي سید محمد داود آغا الهاشمي صاحب مېلمنو ته د ښه راغلاست تر څنګ علمي وینا وکړه. مولوي آغا صاحب غذایي امنیت او مصئونیت د قرآن او حدیثو په رڼا کې مفصل تشریح کړ او زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت په راتللو سره غذایي امنیت او مصئونیت تر ډېره تکمیل شوی او لاهم کار پرې روان دی تر څو عامي روغتیا وزارت، د خوړو او درملو اداره او کرهنې وزارت د خلکو د

غذايي امنيت او مصئونيت په اړه پوره تفکر وکړي او هیوادوالو ته صحي غذا تهيه کړي. وروسته د علمي څېړنو مرستيال پوهنمل  دوکتور شريف الله شريفي د کنفرانس د پېژندنې او اړتیا اړوند مفصل معلومات وړاندې کړل. د ويناوو په دوام د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ رياست رئيس مولوي انعام الله سمنگاني صاحب د موضوع اړوند خپل معلومات شريک کړل وروسته د کندهار ولايت علماء شورا په نمایندگۍ مولوي محمد عمر خطابي صاحب او د کندهار د حج اوقافو رئيس شيخ الحديث مولوي عبدالبصير فائز صاحب او همدارنگه د جهاديه مدرسو عمومي رئيس شيخ الحديث مولوي عبد الواحد طارق صاحب او د کندهار جهاديه مدرسې مهتمم شيخ الحديث سرور شاه آغا صاحب هم د يادې موضوع په هکله اسلامي او ديني معلومات وړاندې کړل. په پای کې د لوړو زده کړو محترم وزير، شيخ الحديث مولوي ندام‌محمد نديم صاحب، د خپل وينا پر مهال د خوښی په څرگندولو سره ووېل چې د غذايي امنيت او مصئونيت مفهوم د انسانيت د ساتنې په معنا دی. نوموړي همدارنگه يادونه وکړه چې په تېر وخت کې، په ځانگړې توگه د اشغال په دوران کې، افغانستان ته بې‌کيفيته واردات راتلل چې په هغه کې غذايي امنيت او مصئونيت هيڅ پام نه کېده. خو اوس، الحمدلله، د اسلامي نظام تر رهبری لاندې، په دې برخه کې جدي اقدامات ترسره کېږي.

همدارنگه قدرمن وزير شيخ صاحب استادانو ته په خطاب کې زياته کړه چې نظام د دوی د مشورو او وړانديزونو د عملي کولو لپاره ژمن دی او غوښتنه يې وکړه چې استادان په بېلا بېلو برخو لکه کرنه، د علم پرمختگ، امنيت، د افغانستان دفاع، طب او نورو څېړنو کې فعاليت وکړي او گټورې پايلې او نظرونه له اسلامي نظام سره شريک کړي

محترم شيخ صاحب همداراز ووېل، چې افغانستان ته الله تعالی داسې رهبري ورکړې، چې د هېچا غلامي نه کوي او د شريعت په پلي کولو ځان مسؤل گڼي. همدارنگه له علماوو او استادانو يې غوښتنه وکړه، چې د خلکو او محصلينو فکري روزنې ته هم ځانگړې پاملرنه وکړي. وروسته د لومړی ورځې غونډه د دعا په ويلو سره پائ ته ورسېده

د غرمې د ډوډې خوړولو او لمانځه څخه وروسته د اناستيو پوهنتون په انگړ کې د استادانو د څېړنيزو پوسټرونو پروگرام او نندارتون جوړ سوو. استادانو او څېړونکو د ټولو گډونوالو سره خپلې څېړنې شريکې کړي.

(۲- جدول) ټول هغه زراعتي شرکتونه چې د غذايي امنيت او مصئونيت په داخلي کنفرانس کې يې خپل زراعتي توکي د نندارتو د لارې د ياد کنفرانس د گډونوالو په حضور کې وړاندې کړل.

| شمېره | شرکت | د شرکت رئيس | د جنس نوعيت |
|---|---|---|---|
| ۱ | نوی صحرائي ادويه شرکت | محترم رشيد احمد صحرائي | حيواني او زراعتي درمل |
| ۲ | صحرائي ادويه شرکت | محترم مدثر | ډريب ايريگيشن |
| ۳ | د کرنې رياست | محترم مولوي عبدالرشيد منيب | ميوه جات |
| ۴ | شرکت کنډا فروټ پروسس کمپنی | محترم حاجي سعدالدين سعيد | وچې او لندې ميوې پروسيس |
| ۵ | سليم کريمي صنعتي شرکت | محترم حاجي محمد سليم کريمي | مرغ دانه او پنبې پروسيس |
| ٦ | کفايت حکيمي صنعت شرکت | محترم حاجي کريم الله حکيمي | د پخت مصاله |
| ۷ | شفقت راحت صنعتي شرکت | محترم حاجي عبدالباقي رشيدي | زراعتي ماشين آلات |
| ۸ | محمد نادر خپلواک توليدي شرکت | محترم حاجي محمد داؤد خپلواک | زراعتي ماشين الات |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹ | امین کریم کارتن سازي شرکت | محترم حاجي احمد الله زهیر | زراعتي محصولات کارتن |
| ۱۰ | میا صاحب فارم (میلکو) کمپنی | محترم حاجي عبدالهادي میا | میلکو فارم لبنیات |
| ۱۱ | افغان سور غر صنعتي شرکت | محترم حاجي یار محمد رحماني | د پنبې پروسیس |
| ۱۲ | راج شیف غذائي مواد تولیدي شرکت | محترم حافظ قدرت الله | دیګي مصاله |
| ۱۳ | ثمر غذائي مواد | محترم نجیب الله مقصودي | مربا، اچار، جوس |
| ۱۴ | شمس سعید صنعتي شرکت | محترم حسام الدین عبید | زراعتي پرزې |
| ۱۵ | حارث عبید صنعتي شرکت | محترم حاجي نزیر احمد الفت | پنبې داني غوړي |
| ۱۶ | سید پوپل د غذائي موادو پروسس شرکت | محترم سید محمد اغا درد | |
| ۱۷ | افغان ارغند صنعتي شرکت | محترم سید محمد سرور اغا اماني | |
| ۱۸ | کندهار صنایعو او معدنونو خونه | محترم اجرائیوي مدیر احمد الله عزیزي | |
| ۱۹ | کندهار صنایعو او معدنونو خونه | رئیس سید محمد سرور اغا اماني | |

**د کنفرانس پر مهال د زراعتي نندارتون فعالیتونه**

